مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اځړ ۲۰۲۶/۰۳/ ۳۰

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(پنځمه برخه)

### پنجابي پوځ: جوړښت، شالید او کودتاګانې(۲)

### جنرال اغا محمد يحيَی خان[1]

جنرال يحيى خان، د پاکستان درېيم ولسمشر ؤ، هغه ته د مارشال ايوب خان لهخوا د پاکستان واک وروسپارل شو، نوموړی چې د ايوب خان د حکومت ستر درستيز ؤ، د ۱۹۶۹ز. کال د مارچ په ۲۶مه نېټه د پاکستان په ملي ټلويزيون راڅرګند شو او په ټول هېواد کې يې د پوځي حکومت (مارشللا) حالت اعلان کړ او د ۱۹۶۲ز. کال اساسي قانون يې لغوه کړ، پارلمان منحل شو او د ايوب خان ملکي چارواکي له دندو ګوښه کړای شول.[2]

جنرال يحيى خان د ۱۹۷۰ز. کال د ډسمبر په ۷مه نېټه په ټول هېواد کې سراسري ټاکنې ترسره کړې، په ختيځ پاکستان (بنګال) کې د (عوامي ليګ) ګوند مشر، شيخ مجيب الرحمن، نږدې ټولې څوکۍ وګټلې، د پاکستان پيپلز ګوند په لوېديځ پاکستان (اوسني پاکستان) کې بريا ترلاسه چې له شيخ مجيب الرحمن وروسته يې دويم ځای درلود، دا چې ټاکنې شيخ مجيب الرحمن ګټلي وې خو يحيى خان له دې کبله د واک له لېږدولو ډډه وکړه چې شيخ مجيب الرحمن د لوېديځ پاکستان لپاره د (شپږو ټکو) يوه طرحه وړاندې کړې وه چې د ختيځ پاکستان له ولکې څخه د بنګال پراخه داخلي خپلواکي په کې غوښتل شوې وه چې دا د بنګال د خپلواکۍ د پيل هڅې وې.

---

[1]: يحيى خان د انګرېزانو د يو ګوډاکي، سعادت علي خان (قزلباش) زوی دی، يحيى خان د دويمې نړيوالې جګړې پر مهال، د انګرېز استعمار په هندي پوځ کې د افسر په توګه، په عراق، ايټاليا او شمالي افريقا کې دندې ترسره کړې دي. نوموړی د ۱۹۴۲ز. کال د جون په مياشت کې په شمالي افريقا کې د محور هېوادونو: **جرمني، ايټاليا** او **جاپان** ځواکونو له خوا ونيول شو او په ايټاليا کې د جګړې د بنديانو په يوه کمپ کې بندي ؤ چې له هغه ځايه په خپله درېيمه هڅه کې په تېښته بريالی شو.
جنرال يحيى خان د ۱۹۶۵ز. کال د ولسمشرۍ د ټاکنو پر مهال د ايوب خان د ټاکنيز کمپاين کلک ملاتړ وکړ او د فاطمي جناح (چې د ايوب خان پر وړاندې يې سيالي کوله) مخالفت وکړ.
يحيى خان په هندي کشمير کې د کشميري جنګياليو په نوم د خرپ او ترپ پټې (چريکي) جګړې تمويلولې چې په پای کې د هند او پاکستان تر منځ د ۱۹۶۵ز. کال جګړه ترې جوړه شوه. نوموړی جنرال، د پوځ د اوومې پلي لوا [؟] د عمومي قوماندان په توګه وټاکل شو چې د ۱۹۶۵ز. کال د هند او پاکستان جګړې پر مهال يې مشري کوله.
د يحيى خان پلار سعادت علي خان د پېښور له قزلباشانو څخه ؤ چې بيا پنجاب ته کډوال شوی دی، سعادت علي خان، لکه د جنرال سکندر خان د نيکه، (مير جعفر) په څېر د انګرېزانو په خدمت کې ؤ، سعادت علي خان، د هند د انګرېزي امپراتورۍ په پوليسو کې د پنجاب په ايالت کې د افسر په توګه کار کاوه.
د انګرېزانو لهخوا سعادت علي خان ته، د هند د خپلواکۍ غوښتونکو د ډېرو اتلانو، د جسدونو د له منځه وړلو په بدل کې د **(خان صاحب)** ستاينوم (لقب) ورکړل شوی ؤ چې په دغو هندي اتلانو کې د **(بهګت سنګهه)** مړی هم شامل ؤ، دغه اتلان چې د انګرېز استعمار لهخوا په پټه وژل کېدل نو استعمار د دوی جسدونه د سعادت علي خان په څېر خاينانو به لاس له منځه وړل، دا ډول ناوړه اعمال سعادت علي خان په ښه ايمانداری او وفاداری سره ترسره کول.

[2]: https://books.google.com/books?id=o6-wZP7Tz8YC&q=Yahya+Khan&pg=PA59



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکي په خير و لولئ

هغه وو چې شیخ مجیب الرحمن، د ۱۹۷۱ز. کال د مارچ په ۷مه نېټه په بنګال کې په خپله وینا کې په مبهمه توګه د بنګال د خپلواکۍ غوښتنه وکړه، له دې وروسته په بنګال کې بنګالیانو له حکومت سره کاربندیزونه او نه همکاري پیل کړه. د پاکستان د حکومت له نظره، د پاکستان د یووالي د ساتلو لپاره، اړینه وه چې په ختیځ پاکستان کې د پاڅون د له منځه وړلو په موخه باید عملیات ترسره شوي وای. هغه وو چې د ولسمشر جنرال یحیی خان په امر د ۱۹۷۱ز. کال د مارچ په ۲۵مه نېټه د **پلټنې عملیات (سرچلایت)** پیل شول، دا د پاکستان د وسلهوالو ځواکونو له خوا د بنګالي ملتپالو پاڅونوالو غورځنګ پر وړاندې ځپونکي خونړي عملیات وو.[3] نوموړي عملیات د **(بلیتز)** عملیاتو دوام بلل کېده چې د ۱۹۷۰ز. کال په نومبر کې پیل شوي وو



**(د بنګله‌دېش محبوب ولسمشر، شیخ مجیب الرحمن)**

پاکستاني پوځ، د ډګر جنرال (تیکا خان) په مشرۍ، د بنګال پلازمېنه (ډاکه) وځپله، د شیخ مجیب الرحمن ګوند(عوامي لیګ) یې ناقانونه اعلان کړ او د مخالفینو تولیز نیول پیل شول چې په دې ترڅ کې ډېری د شیخ مجیب الرحمن د ګوند غړي او پلویان د هند په ختیځ کې پنا غوښتلو ته اړ شول. **شیخ مجیب الرحمن د ۱۹۷۱ز. کال د مارچ په ۲۵/۲۶مه نېټه، شپې مهال، شاوخوا ۱:۳۰ بجه د خیانت په تور ونیول شو او د همدې کال د مارچ په ۲۹مه نېټه ختیځ پاکستان ته ولیږل شو.**[4]
جنرال یحیی خان، برید جنرال رحیم‌الدین خان د شیخ مجیب الرحمن د دوسیې لپاره د یوې ځانګړې محکمې د مشر په توګه وټاکه. رحیم‌الدین خان، شیخ مجیب الرحمن په اعدام محکوم کړ.[5] خو ولسمشر یحیی خان دا سزا وځنډوله.

هلته په بنګال کې د بنګالیانو پاڅونونه، د شیخ مجیب الرحمن د نیولو له امله لاپسې پراخ شول چې د پاکستاني پوځیانو لهخوا په سختۍ سره ځپل کېدل، د بېنظمیو او ګډوډیو په ترڅ کې **د بنګالیانو پر وړاندې د پاکستان پوځ د وژنو او جنسي تېریو منظم کمپاین روان ؤ.** د سرچلایت عملیاتو لومړنی پلان دا ؤ چې د ۱۹۷۱ز. کال د مارچ په ۲۶مه نېټهه، دې لوی ښارونه ونیول شي او بیا دې د یوې میاشتې په اوږدو کې ټول سیاسي او پوځي مخالفین له منځه یووړل شي[6] خو د بنګالیانو نه ماتېدونکې اوږدمهالې مقاومت، د پاکستانیو پلان جوړونکو له خوا نه ؤ ارزول شوی.

په پای کې د سرچلایت عملیات، په بشپړه کورنۍ جګړه واوښتل، **د پاکستان د پوځ او پولیسو، بنګالي غړو بغاوت وکړ او د پاڅونوالو بنګالیانو سره یوځای یې د آزادۍ پوځ (مکتي باهیني) په نوم غورځنګ رامنځ ته کړ** چې موخه یې د چریکي بریدونو ترسره کول وو.[7]

**په بنګال کې د جګړو له امله شاوخوا لس میلیونه بنګالیان ګاونډي هند ته کډوال شول چې «د پولې هاخوا د هند پر خاوره د بنګله‌دېش په نوم یو جلاوطنه حکومت جوړ شو او شیخ مجیب الرحمن یې د هغه د ولسمشر په توګه وټاکه،** په داسې حال کې چې هغه مهال نوموړی په لوېدیځ پاکستان کې بندي ؤ او د مرګ په سزا محکوم شوی ؤ.

3 :https://hir.harvard.edu/the-past-has-yet-to-leave-the-present-genocide-in-bangladesh
*4 :*
https://ps.wikipedia.org/w/index.php?title=د_هند_او_پاکستان_د_۱۹۷۱_کال_جګړه&oldid=301576
5 :https://www.dhakatribune.com/opinion/op-ed/184325/when-pakistan-put-bangabandhu-on-trial
6:*سالک، صدیق، شاهد تسلیم ډاکا: انتشارات دانشگاه ص. ۶۳، ۹-۲۲۸*
7 :https://www.bbc.com/news/world-asia-16207201


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

د بنګالیانو د ځپلو لپاره پاکستاني پوځ ته هغه مهال بنه پلمه په لاس ورغله چې د بنګال په ګوډېو کې د ۱۹۷۱ز. کال، د مارچ په لومړیو ورځو کې شاوخوا ۳۰۰ تنه بېهاریان[8] په بلواګانو کې د بنګالي جنایت کارانو لهخوا په چیټاګانګ کې په تولیز ډول ووژل شول. د پاکستان دولت چې کله د مارچ په ۲۵مه خپله پوځي ځپنه پیل کړه نو د بېهاریانو د تولوژنې د عاملینو په پلمه یې د خپل پوځ لپاره هر ډول جنایتونه روا بلل.[9]

په بنګال کې د ۱۹۷۱ز. کال د جګړې له پیل څخه لا د مخه ډېرې داسې ناخوالې وې چې د بنګالیانو او لویدیځ پاکستان تر منځ جګړه او د بنګال د آزادۍ لپاره یې لویه جګړه رامنځ ته کړه:

**لومړۍ** دا چې د لویدیځ او ختیځ پاکستان ترمنځ سیاسي نابرابرۍ او د واک وېش ډېر ناعادلانه ؤ، د پاکستان پلازمېنه په لوېدیځ پاکستان کې وه او د حکومت ټول واک د هندي مهاجرو، پښتنو او پنجابي سیاستوالو او جنرالانو په لاس کې ؤ، په داسې حال کې چې ختیځ پاکستان (بنګال) د لویدیځ پاکستان په پرتله ډېر نفوس درلود[10] خو په سیاسي پرېکړو کې یې ونډه کمه وه.

**دویم:** لکه د اوسمهال، د خیبر پښتونخوا او بلوچستان عایدات (چې پنجاب ته لېږدول کیږي) د بنګال شتمنې او عواید، لوېدیځ پاکستان ته لېږدول کېدل چې له امله یې د بنګالیانو د فقر او بېکارۍ لامل شوي وو.

**درېیم:** کلتوري او ژبنۍ تعصب چې په ۱۹۴۸ز. او ۱۹۵۲ز. کلونو کې پر بنګالیانو باندې د خپلې مورنۍ ژبې پر ځای، د اردو ژبې د تپل کېدو هڅې، د بنګالیانو د سخت غبرګون لامل شوې.

**څلورم:** د ۱۹۷۰ز. کال ټاکنې چې په ټولټاکنو کې د شیخ مجیب الرحمن په مشرۍ عوامي لیګ په ټول پاکستان کې ډېرې رایې ترلاسه کړې خو د لوېدیځ پاکستان سیاسي او پوځي مشرانو (په ځانګړې توګه یحیی خان او ذوالفقار علي بوټو) د واک لېږدولو څخه انکار وکړ.

**پنځم:** د بنګالیانو پر خلاف د پاکستاني پوځ ځپونکي پوځي عملیات (سرچ آپرېشن) چې د بنګالیانو پر وړاندې د پراخو وژنو، جنسي تېریو، نیولو او مهاجرتونو لامل شول.

**شپږم:** د پاکستان د پوځ د سرچ عملیاتو له امله، شاوخوا ۱۰ میلیونه بنګالیان هند ته وتښتېدل چې د هند لپاره یې ډېرې مالي او امنیتي ستونزې رامنځ ته کړې، دغه مهاجر اړ وو، په بنګال کې د پاکستاني پوځ پر وړاندې جګړه وکړي او هند وسلهوال کړل.

د هند بنګال او پاکستان تر منځ د جګړې په هکله د پاکستان واکمن جنرال یحیی خان د ۱۹۷۱ز. کال په اګست کې، وړاندوینه کړې وه چې **«له بنګالي چریکانو سره د هند پوځي ملاتړ بنايي د هند او پاکستان ترمنځ جګړه رامنځته کړي.»** چې همداسې وشول.

---

[8]: بېهاریان هغه اردو ژبي مسلمانان وو چې د ۱۹۴۷ز. کال د هند د وېش پر مهال د هند له (بېهار) ایالت څخه ختیځ پاکستان (اوسني بنګله دېش) ته کډوال شوي وو.

[9]:D'Costa, Bina (2011). *Nationbuilding, Gender and War Crimes in South Asia*. Routledge. p. 103.

[10]: په ۱۹۷۰- ۱۹۷۱ز. کلونو کې د ختیځ پاکستان (بنګال) د نفوسو شمېر شاوخوا ۷۰- ۷۱ میلیونه ؤ او د لویدیځ پاکستان، اوسني پاکسان د نفوس شمېر د ۵۵ – ۶۰ میلیونو تر منځ ؤ.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ



(د پاکستان ولسمشر جنرال یحیی خان)

نېټه:۱۴۰۵/۱/۱۴ل. ل

**نور بیا**

د ښاغلی محمد انور اخړ نوري لیکني په دی لینک کې ولولی.